مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲/۱۱/۲۰

# د «غدارۍ» کلمه، د مخالیفینو پرضد د پاکستان د پوځ سلاح

د پاکستان پوځ کله کله د سیاسي مخو له پاره او د خپلو ګټو له پاره په سیاسي مخالیفینو د غدارۍ الزام لګولی دی ،چې دا خبره دومره زیاته شوی او عامه شوي چې اوس څوک پرې په اصطلاح سر هم نه ګروي ،نو پوځ په دي مورد کې ځان ډیر شرمولی او رسوا کړی ،ځیني وخت پوځ او استخباراتي شبکو یې ،په هغو شخصیتونو او پوهو خلکو باندی د غدارۍ تور لګولی ، چې هغوي وروسته او تل په ښه نوم یاد شوي ،یانی د پوځ بر خلاف ،دوی د سولي امن او وطن ته د خیر خلک ول، د اسفند یار ولی خان خبره ده چې وایي چې دا تور او الزام خو په ما هم ولګیدو ، په باچا خان ، په غني خان ، په صمد خان اڅکزی او ګڼ شمیر نورو ولګول شو ،نو د پاکستان پوځ د غدارۍ د کلیمی او ټاپه وهلو نه مقصد او مرام همدا دی، چې د ځان په ګټه کار تری اخلي ،او یا په بل اصطلاح د ځان په ګټه یي په مخالیفینواستعمالوی.

پوځ ته کوم وخت چې له سیاسي مخالیفنوویره پیدا شي ، نو بیا د همدې سلاح نه کار اخلي ،خو زه په خپل شخصی اند داسي فکر کوم ،چې د دي په معنی به دوی نه پوهیږي ځکه دوي د هر چا په مورد کې دا ټاپه د خپل جیبه راوباسي ، او په منورینو پوه خلکو باندی لګوي ،ځکه د زمان په تیریدو سره ورور ورو دا ثابته شوه او ثابتیږي،چې پوځ په کومو خلکو چې د غدارۍ ټاپي لګولي هغوي ټول د پوځ برخلاف د سولي ،اًمن، ترقی،او د تعلیم طرفداران ول،او نرۍ په سطح پوه دردمن او وطن دوستان ول ، نو ځکه زه دا وایم چې دوی به یي په معنی نه پوهیږي ،او یا پوځ د خپلي همیشني سر تمبګۍ نه کار اخلي ، او دا کلمه استعمالوي ،هغوي چې دوی یي غدار بولي ،د کرکي د نفرتونو د خورولو نه ول، او نه دي،او دا بار بار ثابته شوه، چې برخلاف پوځ تر ننه پوری نفرتونه خوروی ، د ترهګرو د روزلو خو یي په دنیا کې نوم دی ،آن چې غیر د ګل خانانو نه چې دوي د دنیا و مافیها نه په اصطلاح بی خبره دي نور په عام خلکو او پوهو خلکو کې ټول د پاکستان تول خبر دي،او د پاکستان د دي کار څخه نفرت کوي ،پاکستان پوځ نفرتونه او بد امنی خوروی ،او دا هم ټولو ته په ښکاره ثابته شوه چې پوځ په کومو خلکو باندی د غدارۍ تور لګولوهغوي د علم معرفت ،د ښه تدبیر خاوندان ،او خاندانی خلک ول ،د پوځ برخلاف چې یو څو کوڅه ډبه انسانان چې د علم او معرفت په کوڅه نه دي تیر شوي ، پوځ د پاکستان د جوړیدو نه تر ننه پوری ،خپله پالیسي نه ده بدله کړی او کرکه نفرتونه خورول غواړي، څو موده د مخه یوه ویدیومی شریکه کړي وه ، چې په همدې هکله پوره معلومات په کې خواره شوي وو ،چې د څو کالو په ترڅ کې د ۲۵ ځلي نه زیات د فیسبوک اداري ماته په خاطرو کې رالیږلي وه، چې ما یو ځل یا دوه ځلي شریکه کړه ، او نور می نه ده شریکه کړی ،چې د دي نه داسي ښکاري چې د فیسبوک اداري ته به هم په زړه پوری وه ،چې په هغه کې د ایشیا ټایم په حواله هانګ کانګ نه یو مشهور سحافی احمد ظفر لیکلي دي:

(چې په په پاکستان کې پر حکومت او پوځ نیوکي کونکو باندی د بغاوت او غدارۍ تورونه لګولو عمل زور شوي چې خلک ور له هیڅ اهمیت نه ورکوي ،او په کې دا هم ویل شوی وو،چې که پاکستان لنډ تاریخ ته نظر واچولی شي ،نو معلومه به شي فوج چې کله خپلو مقصدونو او غرضونو ته نژدې شوی وي ،نو دغه وخت د غدارۍ او مذهبی کارټ استعمالوي ،خو دا لوبه کله کله سر چپه کیږي هم ،چې د دي لرزونکی مثال د پخواني مشرقی پاکستان د مشر شیخ مجیب الرحمن دی، چې پخوانی فوجی آمر ایوب او بیا د ده جانشین جنرل یحیی خان شیخ مجیب الرحمن د غدارۍ په تورکي سره دخپلو زرګونو ملګرو ګرفتار کړل، دي سره چې مشرقی پاکستان کې کوم حالات پیدا شول ،بیا یې فوج د قابو کولو یا اداره کولو هم نه ول ) نو فلهذا اوس په کار ده،چې عوام او پوهه خلک که پښتانه دي که بلوڅ دي او که هر قومونه دي بیداره اوسي،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ